# د مومن خان شيرينو رومانوي نکل :د شفاهي روايت او ليکل شوي قيصې متني څېړنه

**An analysis of oral tradition and written text of Tragic-Romance story of *Momin Khan- Sherino***

رحيم الدين*

ډاکټر برکت شاه کاکړ♥

**Abstract:**

Oral tradition is one of the key features of traditional Pashtun society which has evolved rich folkoric generes both in poetry and prose. The romance narratives created, co-created and recreated by the ordinary Pashtuns on the continuum of historical course are the most viable symbols, tropes and images immersed the the socio-cultrual consciousness of ordinary Pashtuns living in oral traditions and rural areas. The tragic romance story of the two crossed-star lovers Momin Khan and Sherino has been reasonated in almost each corner of the world where Pashtuns lived. This story like all others stroeis which traveled from one area to another through oral tradition has been transformed in text, poetics and somehow in characters. This paper is going to compare and analyze the difference in the written text compiled by Muhammad Gul Noori of Kandahar, and the oral accounts that still remain in the memories of ordinary people in the villages of Pishin district.

**Key Words:** Pashto Romance Legends, Crossed-Star Lovers, Tragedy, Tragedy, Oral Tradition, Textual Analysis

اولسی نکلونه د پښتو د شفاهي ادب يوه داسې هينداره ده ، چې دپښتنو د لرغوني اولسي او ټولنيز ژوند پېښپړه کړه وړه پکښې ښکارېږي. دغه رومانوي قيصې چې د پښتنو په لر او بر وطن کښې پر هر نغري مېلمنې شوي دي، او له هره دره يې د نکلچي د تخيل او ژبني خوږلت قند څکلي دي، په خپل جوړښت کښې دومره تکميل ته رسېدلي دي چې د زياتره کردارونه، غاړي او محاورې يي نن هم په کليوالو سيمو کښې د متل په توګه کارول کيږي-

په دغه قيصو کښې موږ تر ډېره حده د هغه وخت د سياسي، کلتوري، ټولنيز او معاشي شته منيوبشپړه انځور په نظر راځي. هغه وخت د معاش څه ذرائع او وسائلو شتون درلود، څه ډول کلتوري رسمونو، رواجونو او قدرونو ؤ، د پښتنو او نورو قومونو تر مينځ د جنګ يا دوستۍ څه ډول چاپېريال جوړ ؤ، د نر او ښځي تر مينځ چي کوم ټولنيز تفاوت يا توپير نن وجود لري، هغه وخت يې څه حالت ؤ، داسي ډېري خبري دي چي موږ يې د پښتو د رومانوي نکلونو د څېړني څخه کولی شو.

---

* M.Phil. Scholar, Department of Pashto, UOB, Quetta

♥ Assistant Professor, Department of Pashto, UOB, Quetta

خو یوه خبره پر خپل ځای بیا هم د غور وړ ده، او هغه دا چي د نکلونو په متن کښې د وخت او ځای سره بدلون واقعه شوی دی، چونکه دا نکلونه په شفاهي توګه له یوې سیمي بلي سیمي ته لېږدېدلي دي، او د هغې سیمي د معروض او ماحول جامه یې اغوستې ده، ځيني وخت یو ډېر پرتخیل نکلچي وربانديي برابر شي نو په قیصې کي د خپل تخیل په مرسته ډېره ذیاته تلوسه (سسپنس) پیدا کړي، کله بیا یو شاعر نکلچي وربانديي پېښ شي او داسي ناري یا غاړي تخلیق کړي چي وروسته د هغه پرته نکل نیمګړی محسوسیږي.

که چیري موږ د داستان یا نکل و فني جوړښت ته وګورو ، موضوعاتي خصوصیات وڅېړو یا یې د کردارونو او پلاټ تحلیل وکړو نو د نړۍ د ذیاتره اوږدو او لنډو تاریخي داستانونو بڼه او کړه وړه به یو ډول و څېږي.د وړدو حماسي نکلونو لکه د عربي شفاهي روایت الف لیله، د فارسي لیکل شوي د فردوسي شاهنامه، د هندومت تاریخي اومذهبي حماسه بهګوت ګیتا، رامائن، مهابهارت یا د یونان د هومر لرغوني حماسې "الیاډ" او "اوډسي:، د دې ټولو تر مینځ د جوړښت ، پلاټ او قیصې د مرکزي خیال او کردارونه په یوه نه یوه بڼه ببخي سره ورته دي. هم دغه ستونزه یو والی موږ ته په عشقیه داستانونو یا نکلونو کښې هم په نظر راځي.

په یوه روایتي یا لرغوني ټولنه کښې قیصه څنګه زېږون کوي او بیا څه ډول له یوه ځایه تر بله پښې کوي او ځان رسوي، په دې حقله ډاکټر برکت شاه کاکړ په خپله یوه مقاله کښې داسي لیکي:

> "People’s collective memory registers certain events and tales as part of its inheritance from the previous generation and then passes it on to the new generation with substantial subtraction and additions. Thus stories and poetics travel from place to place and generation to generation mainly through verbal communication".(1)

**ژباړه**: "د اولس مجموعي شعور ځیني واقعات د تیرو نسلونو د یادابښتونو څخه ثبت کړي او بیا په هغه کښې د ډېر ور ګډولو او ایستلو وروسته و راتلونکي نسل ته ور انتقال کړي، د صدیو څخه د شاعرۍ او قیصو دغه لړۍ د شفاهي روایت په وسیله له یوه نسل څخه و بل نسل ته انتقالیږي".

نکلونه او نوري حقیقي او خیالي قیصې د هر اولس د اجتماعي لاشعور څخه را پیلیږي. لکه څنګه چي وختي ؤ وئیل سو چي قیصه د انسان ضرورت ده، د دغه قیصو په سوب د انسان تاریخي او ټولنیز شعور روښانه سوی دی. قیصه دغومري لرغونې ده لکه پخپله انسان، دا د انسان سره په غارو کي اوسېدلې ده، کله چي انسان د خپل خورک ضرورت د ښکار له لاري پوره کاوه او په ډلو کښې اوسېدل هغه وخت هم د غه قیصه د انسان سره مله وه، هم دغه ډول بیا دزرعي دور، صنعتي او په سوپر صنعتي دور کي هم قیصه په یوه نه یوه بڼه دانسان ملګرې پاتي شوې ده.د قیصو لویه برخه د نړۍ د انسانانو ګډ (اجتماعي) تخلیق دی، ځکه په ننۍ زمانه کښې دغه قیصو ته نړیواله ورثه

(Global Heritage) هم وئيل کېږي .د قيصې د ارتقا په حقله د ډاکټر برکت شاه کاکړ يو مضمون "د قيصې قيصه" چي په ليکوال مجله کي چاپ سوې ده څه داسي ليکي:

" کيسې د مذهبي عاملانو کاهنانو، ،پنډتانو د معبد خاوره څکلې وه،د باچهانو او اربابانو د محلونو پر مخملي غولي يې خاړپوسي کړي دي،هم التّه يې نازونه کړي،د کليوالو او پاوندګانو د تلوسو ښيرازه خاوره يې خړوبه کړې، په قافلو کښې يې سفرونه کړي، د نس مارېوسوداګرو په سوداګري قافلو کښې يې د نکل چيانو پر وړو مزل کړی دی.د کاروان سرايونه چي د بيلا بيلو سيمو او وطنونو خلګ په پکښې استوګن ؤ، له هم دغه ځايه قيصې خپل تخم پاشلی دئ، په لږ وخت کښې به قيصې پښې وکړې او بيا به د هري سيمي نکلچيانو يا د قيصې تخليق کارانو د خپل صلاحيت او تلوسې مطابق پکښې سپېرونی ګډولو".(2)

**د پښتو داستاني ادب سکښت او توږنه :**

د پښتو رومانوي او عشقيه نکلونه له ډېرو وختونو د پښتنو د قيصي د جبلي حس د زنګولو او لمسولو ضرورت پوره کړئ دی، دغه قيصې که په شمالي پښتونخوا کښې په منظوم او غنائي ډول په هجرو کښې اورول کېدلې، چيري چي نارينه يو ځای سره اوسېدل يا به ټولنيز ژوند ډېر فعاله ؤ، هلته به نکلونه، قيصې، سندري او موسيقي حتما خپل ځان ځرګند کړ. لکه څه ډول چي يوه ټولنه په معنوي توګه د زوق و ځوکه (اوج) ته د يوه خاص سماجي او کلتوري عمل څخه د راتېريدو وروسته ځي هم دغه ډول پښتني قبائلي ټولنو هم د خپل ادبي او فني زوق روزنه کړې ده. تر کله چي د سمندر له لاري يورپي سيلانيانو او استعمارګرو د تجارت لاري نه وې پرانستي، تر هغه وخته کاروانونو د نړۍ د يوه سر څخه تر بله سره پوري تلل. د بريښمو پخوانۍ لار يو سر يې د رومن امپراتورۍ په پائ تخت "اټلي"کښي ؤ او بل يې د چائينا په ښار بيجنګ کښې ؤ د زرګونو کاروان سرايونو په مرسته د نړۍ په مخ داسي منظم او پيودل شوی پروت ؤ چي په يوه وخت کښې به په زرګونو کاروانونو پرې سفر کاوه. د پښتنو سيمي د هم دغه بريښمو د دلاري يو داسي ګودر او چارسو پاتې شوی دی چي د مځکي له لاري سهيلي آسياد مرکزي آسيا او يورپ سره وصل کوي. ځکه نو موږ په پخونيو کاروان سرائيو کي د دغو نکلونو زړه راکښونکو نارو اغېزه درلودلې ده، نو هم دغه ډول د سهيلي پښتونخوا په بنډارونو و د جومات په هجرو کښې يې هم خپل شتون ځرګند کړئ دی. د افغانستان په کليوالو سيمو کښي هم دغه ټولنيز ګنجائشونه وو چي په اولسونو کښې يې داسي قيصې و پاشلې چي د خپل وخت تر ټولو اغېزه ناکه قيصه ايزه پانګه ثابته شوې ده.

"دغه قيصې چي تر څه وخته پوري په اولس کي پاشلي وې، او خلګو د خپلو صلاحيتونو او سيمه ايز لهجو او تخليقي تومنو سره نوي رنګونه هم ورکړي دي. د ځيني مستشرقينو

لکه جینزانو لډسن، ډاکټر بیلیو، جے جے لوریمر، تور برن او ډارمسټېټر پخپله پښتنو لیکوالانو هم د منظومو داستانونه په ښه دغه قیصې خوندي کړې دي. د خوشحال خان بابا په لمسون د هغه پیاوړې شاعر ځوئ صدر خان خټک د درخانۍ او آدم خان رومانوي نکل د مثنوي په ښه لیکلئ او راتلونکي زمانې ته خوندي کړئ دی. د هغه سره موږ وینو چې د فتح خان برېخې نکل د کندهار ملا نعمت الله نظم کړئ دی او بیا یې پر یوه خپرونکي (ناشر) په لس روپۍ دغه نسخه خرڅه کړې ده او په کال ۱۸۸۶ کښې دغه نسخه د ختیځ پوهه جېمز ډار مستېټیر لاس ته رسېدلې ده ".(3)

**د دې موضوع پېژندګلو**:

په دې مقاله کښې موږ د ملي هنداري او د سهیلي پښتونخوا په نورو سیمو که د مومن خان شیرینو د رومانوي نکل کي د بدلون جائزه اخېستې ده، مومن خان او شیرینو د نکل کوم متن چې موږ ته په ملي هنداره کښې په مخه راځي، د هغه متني جائزه مو د اولسي پانګې سره مقائسه کړې ده. د طریقه کار له اړخه دا لیکنه د ځېنو مرکو او ګروهي ورشو څخه په وجود کښې راغلې ده.

د شفاهي روایتونو په بنسټ مومن خان په اصل کښې د ماهیر تر کوتل لاندی د کابل جلال آباد پر لوی واټ چې کوم کلی پروت دي. دا کلی د مومن خان په نوم یادیږي. د دې کلی هنیزی مځکی تر هغه قبرونو وړاندی پرتې دي. چې د مومن خان او شیرینۍ د زیارتونو په نوم یاد شوي دي. د زیارتونو د جوړېدلو له پاره کار نه دي شوي، خو د هغو د دو غرو پر سر د جوړ زیارتونه د هر لار وي د پام وراوړی. د واټ د ختیځ لوری غره باندی د مومن خان او د لویدیځی غره پر سر د شیرینۍ زیارت دي. د مومن خان وران کور هم له لیري لېدل کیږي.

د مومن خان او شیرینو د نکل سیمه د سهیلي پښتونخوا د پښېن سیمه ښوول شوې ده، د دغو دواړو مینانو قبرونه هم په دې سیمه کښې ښوول شوې دي.

په زړه پوري خبره دا ده چې د نړۍ د زیاترو رومانوي نکلونو(Romance Narratives) پایله (اختتام) ویرلړلی وي، دا یواځي د پښتو نکلونو ستونزه نه ده، که د هومر الیاډ او اوډیسي راوخلو،د انګریزي فوکلور رومیو-جیولټ یا د فارسي شاهنامه، د عربي روایت لیلا- مجنون، د پنجاب هېر- رانجها یا د بلوڅو هاني او شاه مرید، دا او داسي ډېر عشقیه نکلونه دي چې د عاشقانو پر مرګ پای ته رسېدلي دي، او اورېدونکي یې په اوبلنو سترګو پرې ایښي دي. په زړه پوري خبره دا هم ده چې هر هغه نکل یا قیصه چې پایله یې پر ویر، غم ، افسوس او ارمان وي، تر ډېر وخته د خلګو په زهنونو کښې ځان له ځای جوړ کړي او وروسته د یوې ټولنه د لاشعور په ګرېبن کښې خپل ځان له د شاتو داسي کندولي جوړ کړي چې دیوه اولس تاریخي او ادبي لاشعور تر ډېره وختي ورڅخه خواږه اخلي.

"په انګریزي ادبیاتو کښې دا خبره د متل په توګه کیږي چي " رومانس په غمیزه کي ژوند کوي" خو په پښتون روایت کښې دا خبره نور خواږه هغه وخت ورګډ کړي کله چي معشوقه (ښځه) د عاشق (نر) پر قبر راسي، له خدایه د مرګ دوعا وغواړي او هم هلته ساه ورکړي".(4)

د مومن خان په غمیزه کي چي کوم درد دی هغه ښائي په نورو رومانوي نکلونو کښې نه وي. کله چي موږ د دې نکل چاپي متن د اولسي پانګي سره مقائسه کوو نو په دې مو سر خلاص شي چي د نکل په پلاټ، کردارونو، نارو او کلائمیکس او اینتهي کلائیمیکس کي ډیر فرق نشته، البته دلته په محاورو، روزمره ژبه، ماحول او ځیني وخت اضافي یا مرستندویه کردارونه هم مینځ ته پکښې راغلي دي.

که چیري موږ د نکل د پیل په حقله خبره وکړو نو ځېنه اولسي پانګي دا خبره کوي چي مومن خان دیو باچا زوی ؤ او شیرینو د هغه د وزیر لور وه، یوه روځ دواړه په ښکار سره ځي ، د زړونو حال سره وائي چي د دواړو ښځي حملداره دي، نو یې ژمنه سره وکړه چي که د هر یوه ځوی پیدا شو او دهغه بل لور پیدا شوه نو د دوی کوزده به یې سره کوو.

خو په چاپي متن کښې دغه بیخي بدل دی، د ګل محمد نوري چاپ شوي نکلونو ټولګه "ملي هینداره" د دغه نکل پیل څه داسي کوي. "

"دوه ورونه وو، یو ورو یې د قوم مشر ؤ، اووه ځامن یې درلودو، لور یې نه وه، د مشر ځوی نوم یې ذبردست ؤ، کشر ورو یې ځوی او لور نه درلوده، د دې دواړو ورونو ښځي برابري (برالبي) سوې ، دغه مشر دې کشر ورور ته ؤ وئیل، چه که ستا لور و ځېګېده او زما ځوی نو ستا لور به زما و زوی ته راکوې، او زما لور که و ځېګیده نو زه یې ستا و زوی ته در کوم".(5)

په شفاهي یا اولسي سویه د د دې نکل اولنۍ تلوسه (سسپنس )دلته پېدا شي کله چي مومن خان هلک وي او په دې نه وي خبر چي د ده کوزده/کوژدن د شیرینو سره شوې ده. یوه ورځ هغه په کلي کښې د نورو هلکوانو سره بجلي/بلډۍ کوي، د ټولو هلکوانو څخه بجلي و ګټي پای یو هلک ورته پېغور ورکړي، چي که ته داسي مېړه یې نو شیرینو دي خپله کړه. هغه په دې خبره ډېر حیران هم سي او خواشینی هم، نېغ مور له راشي، او مورته ؤ وائي چي موري ماته یو څه ننې پخې کړه، کله چي هغه په تبخي/تبۍ نیني ور پخې کړې نو تودې نینې په لاس کي و مومن خان ته ونیولې، مومن خان یې لاس په دواړو متهو ټینګ ونیو، هغې غلبلي کړې، چي زویه لاس دي را وسوزاوه، هغه ورته ؤ وئیل چي قول راسره وکړه چي یو پوښتنه درڅخه کوم سم سم به حال راکوې، هغه ځوګند/قسم وخوړو چي که هره پوښتنه وه رشتیا ځواب به یې درکوم، کله چي ده لاس ورپرېښود ، نو بیا مومن خان پوښتنه ځیني

وکړه چي دا د شیرینو څه نکل دی؟ هغه ډېره زړه نازړه شوه، خو آخر یې ټوله قیصه ورته وکړه چي هغه ستا کوژدن ده او په کوشنیوالي پلار ستا په نامه کړې وه".

"خو کله چي موږ یاد شوي چاپي متن ته راشو نو په دې کښې موږ ته د نکل دغه بنیادي ستونزه (Conflcit) بیخي په پس منظر کښې را څرګندیږي، یعني دا چي اول د زبردوست خان او د ورونو د خانۍ جنګ دی ، بیا مومن خان هم دعوه وکړي، وروسته نیم اولس په مومن خان او نیم په زبردست خان پسې شي".(6)

چاپي متن دا خبره جوته وي چي د مومن خان او زبردست خان تر مینځ ناچاقي او خوابدي د مشرتابه پر ستونزه را شي، چي له کبله یې زبردست خان و مرکې ته د دوولس منه یا دوولس سپره بتکۍ (اشرفۍ) ولور ؤ وائي او مرکه د مومن خان د پوښتلو پرته دغه "ؤلور" ورسره ومني.

په شفاهي نکل کښې د ولور دومره لویه بیعه نه ده ښودل شوې،د پښتو ادیب او رېډیو کمپئیر شهاب الدین مسرور صاحب په دې حقله وائي چي.

"مومن خان مرکه او جرګه ورولېږله، او زبردست خان ښه غټ ولور ږغ پر وکړي. نو مومن خان د شیرینو ولور پوره کولو له پاره هندوستان ته روان شو".(7)

البته د دې مقالې لپاره د یوې سپین سرې انا تاج بي بي سرهم مرکه شوې وه چي د دې مهال یوه ټپه یې څه دا ډول یاده کړه.

"درځی درځی چي سره ځونه
د شیرینۍ ولور مي غواړي په سپرونه" (8)

کله چي مومن خان خپل وطن څخه روانیږي نو په شفاهي حافظه کښې یې نن هم د مور ځېني غاړې شتون لري، خو په چاپي متن کښې د مومن خان او شیرینو تر مینځ څلور ټپې راوړل شوي دي. دلته یوه خبره په زړه پوري ده هغه دا چي په چاپي متن کښې دا یوه شعوري هڅه شوې ده چي د معمول یوه ټپه د نکل د کردارونو تر مینځ په مکالمه کښې وکاروي. د بیلګې په توګه چي کله مومن خان روانیږي نو د شیرینو سره یې د مکالمې په توګه ټپې راوړي دي، په دې ټپو کښې د "د سفر موزې"، نارنجي مخ، لولي (سحر ګري) او داسي نور ټکي کارول شوي دي چي په اولسي ژبه کښې بیخي کم کارول کیږي.

"په شفاهي نکل کښې مومن خان له خپله وطنه و هندوستان ته یوائې روانیږي، او ریدي ګل په نامه هیڅ داسي کردار ورسره مل نه وي کوم چي د ملي هینداري په چاپي متن کښې یاد شوی دی (نوري ۱۱۵)

او نه دلته موږ ته د مومن خان د حسن داسي جلوې په نظر راځي چي په لیدلو یې خلګ بې سوده کیږي. د ملي هینداري په یاد شوي مخ کښې راوړل شوي دي چي "کله

هندوستان ته ورسېدل، نو ریدي ګل مومن خان ته ؤئیل چي ته خپل مخ پټ ساته، ولي چي ستا حسن او جمال موږ ته څه ستونزه جوړه نه کړي، خو په بازار کښې دورګډېدو وروسته چي کله مومن خان له مخه نقاب لري کړي نو د یوه عسکر سترګي پر برابري شي او هغه د حسن ددې جلال او تحیر څخه نېزه تر ځان و کاږي او ټپي شي او د هغه وروسته مومن خان بیا خپله څهر پټه کړي او په بازار کي یوه خونه په کرایه ونیسي او د ریدي ګل سره اوسیدل پیل کړي، د ټپي څخه پوښتنه وشي هغه ؤ وائي چي یو ځوان مي ولید وړباندي له حیرته مړیم، باچا خبر شي، مومن خان او ریدي ګل باچا ور وبلي او بیا هم هلته پاتي شي، تر څو باچا له له څنګلوري زورور باچا څکه د خوا لیک نه وي راغلی، مومن خان باچا ته ؤ وائي چي باج به نه ورکوې ، زه پښتون یم او زه د دغه باچا سره پخپله وینم، را روان شي او بیا دلته په دې باچهي کښې ورسره د ښامار ستونزه را پیښه شي".(9)

په ناچاپه یا شفاهي متن کښې داسي هیڅ تفصیل نشته، نه د ریدي ګل نوم چا ېژندلی او نه یې د هغه باچا ذکر په متن کښې شته چي و بل باچا ته یې باج ور کاوه او مومن خان یې مرستي ته ورغلی ، بله مهمه خبره دا ده چي په شفاهي متن کښې د مومن خان نازک اندامه، یا د پریزادو غوندي حسین و جمیل نه دی ښکاره شوی بلکه هغه د خړو پړو غرونو یو شډل بډل پښتون دی چي خپل همت، اراده، باتوري او د توري هنر یې مل دی.

چاپي متن لیکي چي مومن خان د زرګر پر دوکان د آس لاپره د سرو زرو نیالونه جوړول چي د بازار ټوله خلګ ورباندي را ټول ؤه، او په دې وخت کښي هم هغه انجلۍ پر آس سپره د اوښانې سره تیرېږي او پر خلګو ږغ کوي

"ځوانانو ننګ را باندي وکړئ
پلار مي مغل دی ما ښامار لره لیږینه"(10)

خو په ناچاپه متن کښې داسي هیڅ قیصه موږ ته په مخه نه راځي. د کلیوالو جواب راکونکو په نکل کښي د مومن خان له وطنه څخه په قافلو کښې تګ کوي، او کله چي له قافلې جلا/جدا شي او یوه ښار ته ور ننوځي تر هغه اول شپه ورباندي راشي، هم هلته ویده شي، سحار یې وختي سترګي خلاصي شي نو څه ویني چي د ښار له وره/دروازې څخه یوه انجلۍ پر اوښ سپره له مخه روانه ده او تر شا یې شپږ نور اوښان په سپټیو/پاستو بار را راون کړي دي، دلته مومن خان مخ لره ورځي، او بیا یې د نکل د نارو په زریعه مکالمه کیږي، انجلۍ چي واهم اخیستې وه مومن خان ته یي ټوله قیصه وکړه، هغه ډاډ ورکړ چي ته یې غم مه کوه، د دغه ښامار کار به زه کوم. هغې یو ناره ورباندي وکړه

" ته مي انسان يې که پيری يې
تر زړه مي و خاته د ژړګو سره مېخونه"

مومن خان ږغ پر وکړ.

دا زه انسان يم پيری نه يم
يم مومن خان ستا په کومک راغلی يمه" (11)

خير د نکل په چاپي متن کښې چي د باچا د لور "ګل غوټۍ" او مومن خان تر مينځ کوم رومانوي منظر ليکل شوی دی هغه دومره زړه راښکونکی نه دی لکه څه ډول چي په شفاهي پانګه کښې يادشوی دی. لکه داسي چي مومن خان او ګل غوټۍ په يوه شيله کښې پټ کښېني، مومن خان ستړی وي، هغې ته ۇوائي چي زه ستا پر زنګون سر و لګوم چي کله ښامار راغلی نو پر ما به ږغ کوې. دلته د ښامار د راتګ سره مومن خان په خواږه او بې غمه خوب ويده دی چي د هغه باتوري او زړورتيا ښکاره کوي، خو شفاهي متن د ښامار ته راتګ سره وني او بوټي ټول و زنګوي، دوړي شي او باران شي ،او خوپ جوړ شي،خو مومن خان بيا هم په خواږه خوب ويده وي، د ګل غوټۍ زبان ګوئي بنده شي، او له ويري يې اوښکي پر مخ را توشي او د مومن خان پر مخ ولګيږي، مومن خان د اوښکو د څاڅکو سره له خوبه را پاسي، او ګل غوټۍ د ويري په غبار کښې ورکه ۇويني، ګل غوټۍ په ژړه غوني ږغ بس دومره ۇ وائي چي راغلئ. په شفاهي متن کي ښامار ډېر لوی او د عامو مارانو څخه په جسامت کي ډېر غټ دی.

"د محمد ګل نوري چاپي متن دغه منظر ډير په غېر افسانوي توګه بيانوي،ګل غوټۍ اول له مومن خان څخه جلا/جدا د اوبو پر چينه کښېني، خو بيا چي وګوري چي دغه ځوان پر ما سر ايښی دی، نو راسي د هغه سر پر خپل زنګون کښېږدي، په څوڼو کښې يې ګوتي ور وهي، مينه يې ورباندي راغلٰه، يوې خوا ته د ښامار وېره او بلي خو اته د مومن خان د ميني آرزو، نو وايه څنګه به وي".(12)

مومن خان هم زړه نا زړه سي چي دا نامحرمه بيا له کومه راپېښه شوه، هلته يې د شيرينو ياد ور په زړه سي. چاپي متن بيا ليکي چي مومن خان په پښو پوري توره وتړله او بيا يې ځان د ښامار خولې ته يو ور، او شفاهي متن وائي چي نه، ښامار په خپله ساه ټولي وني او درختي له مځکي کښلې، مومن خان هغه په ساه ۇ واهئ او کله چي يې تر ستوني تېر شو نو يې د خپلي توري په مرسته د هغه ځرمن پرې کړ او لکۍ يې ژوندی را ۇ وتی.

د نکل په شفاهي متن کښي د ښامار وژلو دغه خبر چي باچهي/ښار ته را ورسيږي نو خلګ يې ډير په جوش او خوشحالي ولمانځي. د مزاح يو اړخ دا هم پکښې را ووزي چي هر کس د ښامار تر پائمال وجوده ځان رسوي ، يوه ټوټه ځيني را پرې کړي او بيا باچا ته ښغ راشي او ورته وائي چي باچا صاحب

مبارک! د ښامار تر سر خو مي ورتېره کړه، او ستا لور مي هم بچ کړه، باچا د خپلي خزانې د بوجيو خوله خلاصه کړې وي او په لپو لپو بتکۍ و خلگو ته ورکوي، آبس تا هم د ښامار څخه ټوټه راپرې کړه چي ښامار ما وژلے دی ، ما هم پرې کړه چي ما وژلۍ دی، څه سر دي گرځوم چي مخلوق راټول دی، خو آخر د گل غوټۍ ورپام سو نو يې پر پلار ناره وکړه،

"ښامار هغو ځوانانو مړکۍ
تر نرۍ ملا يې د سرو زرو تناؤنه ".(13)

خو په چاپي متن کښې مومن خان د ښامار لکۍ پرې کړې او د ثبوت لپاره يې له ځانه سره کښېږدي. باچا يې ور و غواړي او کله چي ځکه دا يوه ټپه هم ورسره جوته راغلې ده.

"ښامار هغه ځوان مړ کړي
چي په خپل لاس کښې د ښامار لکۍ لرينه".(14)

چاپي متن ليکي چي دغه باچا وه مومن خان ته ډېر خواست وکړ چي د هغه په پاچهي کي پاتي شي، او دلته باچهي وکي، خو هغه ورته غوټ انکار وکړې خو په مجبوري کښې د باچا د لور سره نکاح وکړي خو هيڅ ډول ازدواجي تعلق ورسره نه ساتي،هغه ورمي باچا ته راسي او هغه د باج د معافۍ ليک ورته راوړي، باچا ډېر خوشحاله سي، خو دلته د مومن خان "ماجتي ورور" يعني ميندوني ورور چي د دې باچا پايداني يې نيولې وي، مومن خان سره ؤويني او هغه د زبردست خان له جوره گوروانی کوي،ورته ؤ وائي چي ستا مور يې هم له کوره شړلې ده، په ناره کښې ورته ؤ وايي چي

"که مومن خان يې پر ما گران يې
د زېړو گلو په باغ گډ واتل مالونه" (15)

د دې مقالې لپاره چي د پښين ضلعې په بيلا بيلو سيمو کښې د خلگو سره مرکې وشوې، په هغو کښې يوه په زړه پوري خبره دا مخته راغلٔه چي د لوستو او خصوصا اديبانو ځواب راکونکيو پر قيصو د ملي هينداري د چاپي برخي جوت ثرات تر سترگو کيږي. خو د سپين سرو او نالوستو زنانو د نکل يادانښتونه بيخي لرغوني او متنوع(Diverse) دي. د نالوستو سپين ږيرو او زنانو څخه چي د نکل کومه پانگه په لاس راغې په هغه کښې د دويم باچا، د مومن خان د ماجتي ورور ذکر نه راځي، البته و مومن خان ته دغه حال يو گوروان ور وړي چي د حالاتو جبر تر هندوستانه رسولی وي.

کله چي مومن خان د باچا څخه د هغه د لښکر په بدرگه او ډېرو جواهراتو او بتکيو را روان سي، نو د شپې خپل وطن ته راورسيږي. دلته د نکل هغه برخه څيره وهي چي ورته غمّيزه يا الميه وئيل کيږي. په دغه ځای کښې د چاپي متن او د شفاهي يا زباني متن تر مينځ ډېر توپري البته په مخه نه راځي.

البته د شفائي متن انداز ډېر حیرانونکی او زړه راښکونکی دی. کله چي نکل چي دغه شپه یادوي نو داسي ښکاري چي دغه به د غم او الم څخه ډکه یوه شپه وي، مومن خان خپل آس کورنګ" هم هلته پرېږدي، او کله چي د زبردست خان و کلا ته راسي نو زړه يې ونه درېږي، تر کلا واوړي او نېغ د شیرینو او د هغې د اوو ورونو خوني ته ولاړ شي، شیرینو د ورونو په مینځ کي ویده وي، مومن خان د هغې پلنګ ته ورسیږي، او کله چي لاس وروړي نو شیرینو کرږه کړي، " زبردسته وروره و دي خورم خو غل دی". دغه او داسي نوري ډېري محاورې دي چي په چاپي متن کښې يې موږ درک نه مومو، په ناچاپه متن کښې د شیرینو ټول ورونه د مومن ولورته خپلي چړې را و غورزوي، ټولي د هغه په بدن کښې ښخې شي خو د زبردست خان چاړه ډېره ژوره ننوځي.

په ټپه کښې يې هم د دغه یوې چړې د ژور ټپ (ذخم) ذکر راغلی دی

"مومن اوو چړو وهلی د ذبردست د چړې موټی لګېدلی

مومن اوو چړو وهلی د زبردست چړې ډېر فریاد کوینه"(16)

کله چي زبردست خان دغه منظر ؤ ويني هغه ته ډير غرېو و درېږي، د مومن خان له لړمونه چاړه را وباسي او په خپل ټټر يې ښخه کړي، دغه ډول په کور کي د ويني څلکي شي، د شیرینو ورونه پر مور بړغ وکړې چي راکښېني او وور بل کړي، ټپه څه داسي ده،

"ادې راکښېنه وور رابل کړه

د مومن خان په وينو سره دي بالښتونه" (17)

د مومن خان مور چي کله د هغه آس "کورنګ" ؤ ويني نو ناره ورباندي کوي.

"کورنګه مات دي شه بندونه

پر نیمو شپو دي مومن خان راوړ له کومه" (18)

له ناچاپه قيصې موږ ته دا خبره هم په لاس راځي چي مومن خان دوولس کاله بشپړه مسافري کړې وه او په پردیسۍ کښې يې تېر کړي وو، خو د هغه د ژوند بس یو مرام ؤ هغه دا چي شیرینۍ ولور وګټي او د خپل تربور سره د برابرۍ او سیالۍ پر بنیاد ژوند وکړي. د مومن خان د مور ناره.

"مومن مي دوولس کاله تللی

پر دیارلسم کال چي راتلی اجل نیولی"(19)

د دې نکل غمیزه ځکه هم ډېره درنه او ژوره ده چي مومن خان دوولس کاله مسافر ؤ، او و خپل مرام ته د رسېدو وروسته ورڅخه یوه داسي غلطي وشي چي د هغه د ژوند اخیستلو پیلامه وګرځي.

کله چي سحار شي جنازې ورل کيږي نو غم و الم و خپل اوج ته ورسیږي، په دې وخت کښې ګل غټۍ هم را ورسیږي هغه په دې خبره شي چي مومن خان وژل شوی دی، د مومن خان جنازه پېغلي

انجونه وړي او د زبردست خان جنازه ځوانانو اوچته کړې وي، ګل غتې له ورایه دغه ناره ورباندي وکړي.

"د پاسه دوې جنازې راغلې
د مومن خان جنازه پېغلي انجونه وړینه" (20)

په شفاهي برخه کښې ګل غتې و شیرینو ته پېغور ورکړي چي دغه مئین د دې پر خلګې ؤ وژل شو، ولي په هندوستان کښې هغې په شربتور اوبولو. د هغې ټپه څه داسي ده.

"مومن خو تا مړ کئ شیریني
په هندوستان کي په شربتو اوبیدونه"(21)

هم دغه ډول د مور دغه وروستی ارمان یې هم د ټپې په بڼه تر موږه رارسېدلی دی چي هم چاپي متن نیولې ده او هم په عام اولس کښې شهرت لري.

"مومن پر لوړه غونړۍ پټ کړې
چي خواره مور یې هر سحار جارت کوینه" (22)

**پائله**:

شفاهي اصناف که نظم وی که نثر او که بیا د هر قام وی، د هغې ژبې د ویونکو ډېر څه ترلي وي. د هغه قام، کلتور، تاریخ ټوله د فولکلور سره پراخه علاقه لري. د دې پاسني بحث څخه یوه خبره جوتیږي چي اولسي نکلونه د نورو نکلونو غوندي له یوه ځایه بل ځای ته پښې کوي، او ځان رسوي، په هر وخت او ځای کښې یې خلګ د خپل زوق، روزمره، محاوره، لهجې او فوکلوري صنفونو په هینداره کښې ګوري او بیلا بیل انځورونه جوړوي. د مومن خان او شیرینو نکل هم داسي دی چي د شفاهي روایت له مخي د یوه ځای څخه بل ځای ته په رسېدو باندي د لړ یا ډېرو بدلونونو سره مخامخ شوی دی. په دې مقاله کښې موږ د نکل د چاپي او شفاهي متن څېړنه وکړه، او په دې نتیجه ورسېدو چي د شفاهي روایت اډانه چون پر ډېرښت او تنوع وي، د دې نکلونو یو تخلیق کار نه وي، بلکه د ټولني اجتماعي لاشعور د دې خالق وي، ځکه نو یو چاپي متن د دې پراخي کلتوري اجتماعیت او ډېرښت (تنوع) احاطه نه شي کولئ.

# حوالې

(1) Kakar, Dr. Barkat Shah. (2009), The Social construction of Tragedy in the Pashto Folk Romance narratives, Takato Issue I, Volume I, Department of Pashto, University of Balochsitan Quetta, p.35 .

(2) کاکړ، ډاکټر برکت شاه، د قیصي قیصه، ژباړه ذاکر زیارتوال، لیکوال مجله مئ ۲۰۱۸

(3) Catalogue of Pashto Manuscripts in the Libraries of British Isles, published by the trustees of Brisiths Museum, 1956, p.119

(4) Kakar, Dr Barkat Shah. (2009). The Social construction of Tragedy in the Pashto Folk Romance narratives. Takatoo Journal Vol 1 Issue 1. Department of Pashto University of Balochistan Quetta

(5) نوري، ګل محمد .(n.d) ملي هینداره ، رحمان ګل پبلشرز، قیصه خواني پېښور، مخ ۱۱۰

(6) هم دغه اثر مخ، ۱۱۱

(7) مسرور، شهاب الدین، ناسته، کلي حاجي عبدالرزاق یارو، پښین، نیټه، ۴جون ۲۰۱۹

(8) ښځینه ناسته، کلي حاجي عبدالرزاق یارو، پښین، نیټه، ۱ جون ۲۰۱۹

(9) نوري ،محمد ګل, (n,d) ملي هینداره،رحمان ګل پبلیشرز،قیصه خواني،پېښور،مخ ۱۱۱،۱۱۲

(10) همدغه اثر،مخ ۱۱۷

(11) نوري،محمد ګل،(n,d)،ملي هینداره،مذهبي کتب خانه، کاسي روډ کوټه،چاپ کال،۲۰۰۴،مخ ۱۵۳

(12) نوري ،محمد ګل،ملي هینداره،رحمان ګل پبلیشرز،قیصه خواني،پېښور،مخ ۱۱۸

(13) عبدالحلیم،ناصر آباد ،بوری لورلائي،ناسته،۰۱.۱۰.۲۰۲۰

(14 ) عین الدین کاکا ، ، ناسته، عجوه هوټل یارو، پښین، نیټه، ۳ جون ۲۰۱۹

(15) محمد ، نیاز، ناسته، کلي فیض آباد ، پښین، نیټه، ۳ جون ۲۰۱۹

(16) ملک نور احمد ،ناسته،برښور ښار،۲۸ جنوري ۲۰۲۰

(17) محمد نیاز، ناسته، کلي فیض آباد ، پښین، نیټه ۳ جون ۲۰۱۹

(18) رضا محمد ، ناسته، کلي غوث، پښین، نیټه، ۹ جون ۲۰۱۹

(19) عیسیٰ،محمد ،ناسته،مسلم باغ ښار،۰۳.۰۲.۲۰۲۰

(20) ملک نور احمد ، برښور ښار،۲۸.۰۱.۲۰۲۰

(21) رفیع الله ناسته،سنځاوی،۲۹.۰۸.۲۰۱۹

( 22) ملک نور احمد ، برښور ښار،۲۸.۰۱.۲۰۲۰